د افغانستان اسلامي امارت

د ستندرډ ملي اداره | اداره ملي ستندرد

تخنيکي معاونيت

د مطابقت و ارزونې رياست

۳۰۰۹
۷۴۵

ګڼه : | نېټه :

بسم الله الرحمن الرحيم

**د ا.ا.ا د رياست الوزراء محترم اقتصادي معاونيت ته !**

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته .

په چارو کې د رته موفقيت او د الله نصرت غواړو .

**موضوع : د زين الدين ولد شمس الدين د عارضې په اړه .**

لکه څرنګه چې تاسو ته مالومه ده ، چې د ستندرډ ملي اداره د هيواد په مرکز او بندرونو کې د راتلونکو تجارتي اموالو د کيفيت تثبيت او کنټرول په برخه کې مسئوليت په غاړه لري ، کله چې هم کوم اموال د ارزونې په ترڅ کې بې کيفيته ثابتيږي نو هيواد ته يې د ورود څخه مخنيوی کوي ، چې په دې جريان کې يو تن زين الدين ولد شمس الدين چې ځان د نورو ۳ تنو نمائنده هم بولي دې ا دارې ته په راوړل سوې عرض پاڼه کې ليکلي چې په ايران هيواد کې مهاجرين وه او اوس خپل هيواد ته راستانه شوي دي ، داچې هلته يې پر ځينو خلکو باندې قرضونه پاتي وه دهغو د وصول په برخه کې يې ور څخه ۳۰ ټنه سيخ ګول اخيستي ترڅو دلته يې د خپلو کورونو په آبادولو کې استفاده کړي ، داچې ياد سيخ ګول ددې ادارې لطرفه په اسلام کلاه بندر کې ارزول سوي او پايله يې منفي تثبيت سوې ده ، اوس يې ياد اشخاص د ورود غوښتنه کوي او اضافه کوي چې ياد سيخ ګول تجارتي نه بلکې د خپلو کورنو لپاره يې راوړی دی .

داچې دا اداره د کاري استقامت له مخې ستاسو محترم مقام سره تړاو لري ، په همدې اساس مو موضوع تاسو ته وړاندې کړه هر رنګه چې يې لازمه بولی هدايت به وکړی . والسلام .

يادونه : د ذکر سوي شخص عرض پاڼه چې د ا.ا.ا د رياست الوزراء محترم اداري معاونيت د سکرتريت لطرفه هم تائيد شوې د ټولو اسنادو سره په ۱۰ ورقو کې يوځای د مکتوب ضميمه ده .

الحاج ملا فيض الله تميم

د ستندرډ ملي ادارې رئيس

۴/۴

پته: صنعتي ښارګوټی، د کابل ـ جلال آباد لويه لار، کابل افغانستان
د اړيکي شمير: 2320118(020)93+

ثبت وارده :
۱۴۹۹۲
۱۴۴۷/۴/۵